مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۰۶/۰۹

# وزیرستان،

## د ستراتیژیکې لوبې خونړی زخم

ښکېلاک څومره چې د منځني ختیځ بډایو زېرمو ته د حرص او وږسترګی تندي اخیستی و، هماغومره یې په دې سیمه کې د وینې بهولو وحشي غریزه پیاوړې کړه. منځني ختیځ پرېمانه تېل او ګاز لرل، عربې ملتپالنه یوازینی ځواک و، چې د «عربي انسان» په ګېډه یې د دغو زېرمو پروسس او پلور غوښته. د سویز کانال او د اسماني ادیانو او تمدنونو زانګو ته ښکېلاک شونډې څټلې، ځکه خو د عربي ملتپالنې په ماتې پسې شول. یو زاولن او خونړی زخم یې جوړ کړ: «فلسطین».

ښکېلاک د تاریخ تګلوری بدل کړ، اسرائیل یې دومره وپرسول، چې د عربو لپاره یې حیثیتي شوې سپېڅلې زمکه تري ونیوله او په دې بڼه یې عربي ملتپالنه په ګونډو کړه. عربي ملتپالنه د فلسطین په زخم مړه شوه او ځای یې د ښکېلاک په پیسو او دسیسو پړسول شویو بنسټپالو او ترهګرو ډلو ونیو...

کټ مټ داسې لوبه زموږ په سیمه کې له وزیرستانونو او قبایلي سیمو سره وشوه.

اول یې د ډیورند په چاړه پښتني ترانګه او مدني مرکز (پېښور) له مورهېواده بېل کړل، بیا یې دغه خونړی زخم همداسې پرانیستی پرېښود، تر نن پورې په کې چاړه وهي او غواړي افغان ملتپالنه په همدې زخم دومره وربروي، چې تر مرګه ونه‌رغیږي.

ــ په وزیرستانونو کې ولې هره ورځ مخور وژل کیږي؟
ــ په قبایلي کلیو کې ولې ښوونځي سیزل کیږي؟
ــ د ملي مبارز، ایپي فقیر، ځایناستی ملک شېرمحمد وزیر ولې ووژل شو؟
ــ په تېرو څو لسیزو کې زرګونه داسې «د دستار سړي» ولې او چا ووژل؟
ــ د افغان ملتپالنې په وړاندې ترهګر، بنسټپال او خونړۍ اوربکې ډلې چا او د څه لپاره وپرسولې؟

د پښتني سیمې ستراتیژیک موقعیت، پراخو سرچینو او د افغانستان نغرلو ته ناست ځواکونه دغه زخم تازه ساتي. قبایل او وزیرستانونه زموږ د سیمې فلسطین کیږي.

د ښکېلاک ازموېل شوې تجربه وایي، چې د «افغان ملتپالنې» ناکامي او بدنامي همدلته شوني ده. دا تجربه وایي: افراطي ترهګر ځواکمن کړه، ملتپال بهیرونه سره وویشه او تباه یې کړه!

د دې تجربې له مخې د ډیورند په کرغېړنه چاړه بېلې شوې زمکې باید دومره په اور او وینو کې وسیزل شي، چې د افغاني مالکیت دعوا یې هېره شي، دا ملي داعیه د افغان ملتپالنې لپاره حیثیتي شوې ده.

وزیرستانونه به د خپل ولس تر بشپړې ویښتیا او روښانتیا پورې په وینو لړلي وي.

ناهیلي نه خپروم، خو چې ښوونځي ورسیزي، پښتونژغورني غورځنګ ورځېږي او کټمټ د عربي ملتپالنې په وړاندې د عربي بنسټپالو افراطیونو په شان دلته هم بنسټپال ترهګر ورځ په ورځ پیاوړي‌کوي، ویښتیا او روښانتیا به څنګه رامنځته شي؟

او

افغان ملتپالنه به څنګه ژوندۍ پاتې شي؟

ټولو افغانانو!

په خپلو هغو بچو پسې ودرېږئ، چې ستاسو د ټوپک‌رای شویو وینو پوښتنه کوي، چې ستاسو لپاره ژوند غواړي، ملي واک غواړي!

های!
څوک شته؟
غږ مې اورئ؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ